مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۲/۰۱

# فتوی

ــ مفتي صیب! د یوې مسئلې پوښتنه مې کوله.

ــ وایه!

ــ د محلې دوکاندار مې ډیر ځوروي. ما د تېرو دوو میاشتو قرض ادا کړی نه دی.

ــ نو غواړې څه وپوښتې؟

ــ لور مې هره ورځ ژاړي، ما د نانځکي راوړلو وعده تر اوسه پوره کړې نه ده.

ــ د مسئلې پوښتنه وکړه!

ــ زما له ښځې جګړه ماره/ جنګېړکه جوړه شوې. له اوږدې مودې راهیسې مو کور کې د دوو وختونو ډوډۍ نشته.

ــ د پوښتنې خبره څه شي ده؟

ــ د ټولو خبرو ذمه وار خان صیب دی، چې مزدوري راباندې کوي، خو معاش نه راکوي.

ــ په دې ټوله کیسه کې مسئله چیرې؟

ــ مسئله دا ده، چې په داسې حالاتو کې خودکشي کول جایز دي که نه؟

سیف الرحمن ادیب

ژباړه

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ